آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

دوکتور م، عثمان تره کي ۲۰۱۸/۱۲/۰۸

# وسله وال مقاومت د يو پيچلې آزمون په درشل کې !

ځو ورځې وړاندې په قطر کې د وسله وال مقاومت د سياسي دفتر يو پلاوې پاکستان ته مسافرت وکړتر ځو چه له طالب مشرانو، پاکستاني چارواکو او د امريکا ځانګړې استازي سره په افغانستان کې د سولې په اړه خبرې وکړي.

مذاکرات د جګړې د اړخونو له خوأ په يو حساس وخت کې تر سره کيږي. طالبان د يوې سختې آزموينې سره مخ دي. دوي بايد سياسي نبوغ ولري چه د متخاصمو اړخونو متضادې ګټې په يو واحد کانال کې ځاي په ځاي کړي او په تيه دريدلې سولې کاروان ته حرکت ورووبښي.

* * *

په تيرو اولسو کلونو کې امريکا د افغانانو د مقاومت د ځپلو په موخه د وسله والو مخالفينو برخه ليک او ورسره په افغانستان کې د سولې او جګړې موضوع پاکستان سيمه ايزه ستراتژې سره تړلې وه. پاکستان د تروريزم پر ضد د امريکا جنګي مؤتلف، د خپل تول ظرفيت په کته اخيستنې سره د ديورند په دواړو خواو کې په قتل او ورانې لاس پورې کړ. د امريکا په پولي مرسته د پښتنو په زړه کې اغزن سيم وغزول، د پښتونخواه بر قبايلي متنازع فيه سيمو خپله قبضه ولګول او د افغانستان سهيلي سيمو د توغنديو تر ګوذارونو لاندې راوستل.

خو نن چه د سيمې په کچه د سولې وروستيو هلو ځلو حساس پلاو ته ورننوتې، بايد د دواړو ګاونديانو ترمنځ د ورورولي پر بنست حساب او کتاب ته هم پام واړول شي.

د اشغال ضد جګړې په حالت کې د افغانستان ملي ګټې له تولو هغو هيوادونو سره تړل کيږي چه د مقاومت په ملاتړ ولاړ وي . موږ افغاني مقاومت مجبوريتونو ته په پام سره دا منو چه هغوي د اشغال ضد جګړه ايزو عملياتو د ترسره کولو په مقصد پاکستان ملاتړ ته اړ وو او تر هغه وخته پورې اړې پاتې شي چه جګړه دوام ومومي. خو کله چه د سولې خبرې مطرح کيږي افغانستان ځانته ځانګړې ګټې لرې چه بايد د مقاومت له خوآ تمثيل شي. دلته د طالبانو سياسي خپلواک دريز د يوه حياتي اړتيأ په توګه مطرح کيږي.

خو واقعيت دا دې چه د سولې په پروسه کې د پاکستان سياست د طالبانو د خپلواک دريز سره په تقابل کې راځي.

د جګړې د دوام په موخه مقاومت په جنګي کمزورې حالت ساتل د  پاکستان او امریکا ګډه ناکامه پروژه وه. اوسمهال چه د سولې خبرې مطرح کیږي د افغانستان ملي ګټې چه باید د یو پیاوړې مقاومت له خوآ تمثیل شي د پاکستان له ګټو سره په ټکر کې راځي.
 یوازې یو پیاوړې خپلواک طالب غورځنګ، سولې ته لاره هواره او افغانستان آزادولې شي.

 که مقاومت د پاکستان تر قیمومیت لاندې د سولې په خبرو کې  د عجز او کمزور دریز نه ورداخله شي او د یو خپلواک غورځنګ په توګه د افغانستان د ملي ګټو نه  دفاع ونکړي، د جینوأ تړون په څیر (د افغانستان نه د شوروي پوځیانو د وتلو تړون) افغانستان یو وار بیا د ګاوندي هیواد په «عمق ستراتژي» بدلیږي او جګړه دوام مومي :

داسي یو افغانستان چه په کې د پاکستان تحت الحمایه افغان طالب ملیشیي واکمن وي او د «آي. اس. آې» د کمیشن کارو ملایانو په فتوأ، دیني مقدسات د ککړ سیاست په موخو وکاروي، د سیمي د هیوادونو او په ځانګړې توګه د هندوستان له جګړه ایزو ګواښونو سره مخ کیږي.

په اتلس کلن جګړه کې ، پاکستان طالبانو ته د یو حقیر جګړه مار لاسوند په توګه کتلې  او هیڅکله ندې منلې  چه د سولې په بهیر کې د مستقل دریز پر بنیاد د افغانستان ملي ګټي د پاکستان د ګټي نه جلاً کړي.

خو اوسمهال چه امریکا د طالبانو سره مستقیمو خبرو ته کیني یعني جنګي ستراتژي د سولې په پروسه بدلوي باید داسي لارې چارې ولټوي چه په ترڅ کې یې  وسله وال مقاومت د پاکستان د قیمومیت نه ځان وړغوري او سولې پروسي ته د یو خپلواک ځواک په حیث ورګډ شي.

امریکا او ورسره پاکستان باید پدې باندې ځان پوه کړي چه د  یو اشغال ضد مقاومت دریز د جګړې په بهیر کې هرو مرو د میلمه پال هیواد تر اغیز لاندې د سولې د وخت د دریز سره ټوپیر لري. د همدغه واقعیت په نظر کې نیولو سره امریکا که واقعآ سوله غواړي باید مخکې لدی نه چه د طالبانو سره د سولې مذاکرات ټاکونکې پړاو ته ورسیږي، هغوي ته زمینه برابره کړي چه د پاکستان د تحکم نه  ځان وباسي. دغه خبره باید د پاکستان سره د دشمني په معنا تعبیر نشي.  یو خپلواک افغانستان، د دواړو جنګ ځپلو هیوادونو تر منځ د سولې او امنیت ذمه واري کولې شي. برخلاف تجربه ښودلې چه تر بل واک لاندې افغانستان سیمه ایز ستراتژیک اندول له منځه وړي او نهایتاً سیمي ته د نا امني او جګړې د صدور په سرچینه بدلیږي. د جګړې تاوان زیاتره پاکستان ته رسیږي.
که پاکستان د افغان طالبانو مستقل سیاسي هویت ونپیژني د وسله وال مقاومت د آزاد او خپلواک دریز د ضمانت په موخه دوې لارې پاتې کیږي:
لمړي – د قطر د دفتر مرکزیت تینګول.

باید په پاکستان کې میشته طالبان د خپل مشرتابه نه نیولې تر دفتر او دیوان پورې قطر ته منتقل شي. پدې توګه په دوحه کې د ملاً هبت الله آخوند، حقاني شبکه او د کویټې شورأ په حضور د سولې په اړه د طالبانو پریکړې مرکزیت او پیاوړتیأ مومي. د طالبانو د رهبري جوړښتونو د دریزونو تر منځ  جغرافیایي او سیاسي ثنویت او خداي مکړه د انشعاب خطر له منځه ځي.

دوهم – طالبانو ته د پاکستان د جغرافیأ نه لري، د افغانستان په شمال کې یو یا څو ولایتونه وسپارل شي. په شمال کې د طالبانو فزیکي او سیاسي حضور د هیواد د ځمکني بشپړتیأ ضمانت کوي او د طالب ملیشیي په منځ کې د پاکستان د نفوذو مخه نیسي. دوي هلته د خپلو کورنیو سره میشته کیږي. د طالبانو رهبري شورأ د همدغه ځاي نه د سولې او جګړې په اړه پریکړه کوي.

د دواړو وړاندیزونو نه هر یو که د واقعبیني او حسن نیت له مخي پلي شي د سولې، ثبات په لور لاره پرانیزي. د افغانستان د خپلواکي بنست تینګوي <u>پدې شرط چه د یو انتقالي پړاو په رامنځته کیدو کي توافق او وروپسې لاندې تکي ته پام واړول شي :</u>

- په تولو جبهاتو کې د اوربند اعلام
- د طالب بندیان خلاصون
- د طالبانو په مسافرتونو او پولي شتمنیو باندې محدودیتونه او بندیزونه الغأ

په انتقالي پړاو چه د مسلکیتوب په بنست باندې جوړیږي، وسله وال مخالفین د نظام یوه برخه تشکیلوي. طالب مسلکي کسانو ته د امنیتي چارې یوه لویه برخه سپارلي کیږي. طالب ملیشیي ملي اردو ته مدغم کیږي.

<u>پدې حساب مقاومت چه مخکي د افغانستان په نیمایي برخه کې کنترول لرل د نوې حکومت د شریک په توګه په بنه حالت کې واقع کیږي او د پیاوړي دریز په بنست د بهرنیو قوتونو برخه لیک تاکي.</u>

که د طالبانو سره مذاکرات دومره پرمختګ وکړل چه اړخونه یې د یوه انتقالي پړاو په اړه توافق ته ورسیږي، د جګړې د دوام انګیزه له منځه ځي او مقاومت د جګړې په موخه د هیڅ لوري وسلي او لوژستیک مرستي ته اړتیا نلري. پاکستان د جګړه ایز قوت الظهر په توګه خپل رول له لاسه ورکوي.

د یادې شوې دوه وړاندیزونو نه یو وړاندیز باید د ناتو، روسیه او چین په ګدون یوه سیمه ایزه غونډې ته وړاندې شي. غونده د ملګرو ملتونو په سروالي جوړیږي او په کې طالب سیاسي مشرانو او ملیشیائي څواکونو ته په ورسپارلو شویو ولایتونو کې جاني او مالي ضمانت ورکول کیږي. سر بیره پر دې غونده په دوحه کې د طالبانو پراخه شوې سیاسي دفتر مصئونیت تضمینیږي.

طالب ملیشیي د افغانستان په شمال کې د روسانو د نفوذي سیمو سره نږدې کیږي. خو په افغانستان کې د طالبانو په لمسونه د روسانو د مداخلې نګراني پدې دلیل نه مطرح کیږي چه د اوربند او سولي په پروسه کي د روسانو او طالبانو د جنګي اړیکي منطق له منځه ځي. کله چه مقاومت د نوې نظام په یوه برخه بدلون وموند، د سیمي هیوادونه او د هغې جملې څخه روسان جبرأ د نوې حکومت سره چه وسله وال مقاومت په کې غړیتوب لري ، اړیکي برقراروي .

وسله وال مقاومت د یوه پیچلي آزموینې چه په کې خپل سیاسي راتلونکي او ورسره د سولې او جګړې برخه لیک تاکي په درشل کې قرار لري. هیله من یو چه د آزموینې پایله په وینو ککړ ملت ته سوله، امن او آزادي سوغات ور په برخه کړي. « پاي »